مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۶/۰۸/۲۰

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(اوه ویشتمه برخه)



### پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۲۳)

### بېنظیر بوټو چا ووژله؟ د بېنظیر بوټو بېاحتیاطي

بېنظیر بوټو او ګوند يې پوهېدل چې د مشرف حکومت د هغې امنیت نه نیسي، بیا هم بېنظیر بوټو او د هغې د ګوند غړو وړ او اړین احتیاط نه کاوه، لکه څرنګه چې په کراچۍ ښار کې د مېرمن بوټو د راتلو پر مهال د پيپيپي ګوند د ځانګړي دلې، **(جاننثار بېنظیر(JNB)** لهخوا يې امنیت نیول شوی ؤ، په لیاقت باغ کې د (جاننثار بېنظیر) ډلي شتون نه درلود، د ملګرو ملتونو د پلټنو کمېسیون لیکي:« د امنیت په برخه کې د پيپيپي ګوند، کومه منظمه او معیاري کړنلاره نه لرله خو مېرمن بوټو ځیني اړین او ځانګړي امنیتي تمرینونه ترسره کول او ډېری وخت به يې مرمۍ ضد واسکټ هم په تن کاوه. بلې خوا، بېنظیر بوټو ټینګ هوډ کړی ؤ چې خپلې ټاکنیزې هلېځلې په پوره ځواک او [بېاحتیاطۍ] سره پر مخ بوسي. او ډېر ځله به له خلکو سره نېغ په نېغه مخامخ کېده چې په دې توګه به له ډېر خطر سره مخ وه.

بله دا چې د (جاننثار بېنظیر) ډلي چې په کراچۍ کې د بېنظیر بوټو په امنیت کې مرسته کړي وه، د راولپنډۍ د لیاقت باغ (چې بېنظیر بوټو په کې ووژل شوه) نوموړي ډله نه وه راغلي.[1]

[1]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

بې‌نظیر بوټو چې د جنرال مشرف پر حکومت بې باوره وه نو له دې کبله یې د آی‌اېس‌آی او نورو مسؤلو چارواکو باندې باور نه درلود، کله به چې هغې ته د آی‌اېس‌آی لهخوا د خطر راپورونه ورکړل شول نو بې‌نظیرې به فکر کاوه چې دا د هغې د وېرولو لپاه د درواغو جوړ شوي راپورونه دي، دا ربښتیا ده چې د مشرف تر مشرۍ لاندې استخباراتي ادارو دوه موخې لرلې، هغه خطر چې دوی په خپله د بې‌نظیر بوټو پر وړاندې جوړ کړی ؤ. لومړی موخه یې دا وه چې هغې ته د خطر د راپورونو په ورکولو سره بې‌نظیره ووېروي او په دې توګه له خپلو ټاکنیزو هلوځلو ډډه وکړي.
دوېمه موخه دا وه چې که مېرمن بوټو ونه ډاره شوه او له ټاکنیزو مبارزو یې ډډه ونه کړه نو د مرګ له خطر سره خو هسې هم مخ ده. چې په دغو دواړو موخو کې یوه یې خامخا پلې کیدونکې ده **چې دا د جنرال مشرف لهخوا یو ډېر بریالی او اغېزمن استخباراتي اوپراتیفي تکتیک په کار اچول شوی ؤ.**

که له یوې خوا بې‌نظیره د مشرف پر حکومت بې‌باوره وه خو بلې خوا هغې د خپلو خواخوږو لارښوونې او مشورې هم نه منلې، امریکایی خبریال، شنونکی او لیکوال، **اریک مارګولیس** وایي چې «موږ دواړو د هغې تر وژل کېدو دوې ورځې مخکې ایمیلونه تبادله کول او په هغو کې ما خبرداری ورکاوه چې ته باید (د هندې چارواکو په څېر) په عام محضر کې پرته له دې چې په مرمۍ ضد موټر کې سپره نه وې، ښکاره نه شئ. موږ د مرمۍ ضد لباس او دې ته په ورته ډېرو مسایلو باندې بحث کاوه. خو هغې زما په خبرداري باندې هیڅ باک رانه‌وړ او داسې ځواب یې راکړ:**«اریک! زه د خپلو ملاتړو پر وړاندې راڅرګنده‌کېږم، دا هغه څه دې چې موږ یې په پاکستان کې کوو.»**[2]

**SSP مېجر امتیاز حسین** چې د جنرال مشرف د حکومت لهخوا، له بې‌نظیر بوټو سره د اړیکو د همغږۍ او شخصي امنیتي افسر په توګه ګومارل شوی ؤ او د بې‌نظیرې د ترور پر مهال له هغې سره د موټر په مخ سیټ کې ناست ؤ، بې‌نظیر بوټو ته یې د امنیت په اړه اړینې مشورې ورکولې، له بده مرغه چې د هغه مشورې یې هم نه منلې.
مېجر امتیاز حسین وویل چې څو ځله یې هغې ته سپارښتنه کړې وه چې د خپل زغره‌وال موټر د چت له بیرنۍ وتلو په کړکۍ (Escape Hatch) کې ونه درېږي او له هغه ځایه دې خلکو ته لاسونه نه ښوروي.
**خو مېرمن بې‌نظیر بوټو د مېجر امتیاز حسین مشورې نه منلې او کله کله به دې دا ډول سپارښتنو له امله په غوسه کېدله هم.**[3] بې‌نظیرې فکر نه کاوه چې مېجر امتیاز له هغې سره د مرګ او ژوند په یوه بېړۍ کې سپور دی چې په دې توګه کوم شوم هدف نه لري.

بل لور ته د جنرال ضیاء زوی **(اعجازالحق)** او اړونده کړۍ چې د بوټو له کورنۍ سره یې دښمنې پالله، بې‌نظیر بوټو په دې پوهیده چې د جنرال ضیاء کورنۍ هغې ته خبر نه غواړي او چې له لاسه یې وشي د مرګ صرفه نه پرې کوي خو بیا هم بې‌نظیر بوټو د دغه پدرې دښمن پر وړاندې بې‌باکه وه. حال دا چې بې‌نظیر بوټو په کراچۍ کې هغه دوه ځانمرګي بریدونه په خپلو سترګو ولیدل چې د هغې

[2]:https://www.tolafghan.com/articles/16002
[3]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پر کاروان ترسره شول او د جنرال ضیاء زوی، اعجازالحق لاس په کې درلود، اعجازالحق (چې د جنرال مشرف په کابینه کې وزیر ؤ) د بې‌نظیرې پلویانو هغه د کراچې په بریدونو تورن کړ، **اعجازالحق یې په ځواب کې وویل: زما پلار هم د ترهګرۍ قرباني دی او د (ذوالفقار) ډلې له خوا یې پلار وژل شوی دی چې نومورې ډله په بوټو پورې تړلې ده ... .** [4]

د اعجازالحق څرګندوني دا مانا لري چې په کراچې کې د بې‌نظیرې پر کاروان باندې په بریدونو کې لاس لري.

د جنرال ضیاء زوی لکه د خپل پلار په څېر، په پاکستان کې له ټولو مذهبي ډلو، ملایانو، طالبانو او ترهګرو ډلو سره رسمي او شخصي اړیکې لرلې او یو له بل سره یې مرستې کولې چې یوه بېلګه یې له زندان څخه د سره جومات د ملا، عبدالعزیز غازي خوشې کول وو.

لکه وړاندې چې وویل شول، د ټي‌ټي‌پي ډلې وروسته له لسو کلونو، د بې‌نظیر بوټو د وژلو مسؤلیت په غاړه واخیست خو هغه مهال چې بې‌نظیر بوټو ترور شوه، د ټي‌ټي‌پي مشر بیت‌الله مسید د بې‌نظیر د ترور پړه د جنرال ضیاء پر کورنۍ اچولې وه، هغه ویلي وو چې **«د بې‌نظیر د پلار (ذوالفقارعلي بوټو) او د هغې د ورونو قاتلین چې څوک دي، هماغه خلک د بې‌نظیرې قاتلین هم دي.»** [5] د بیت الله مسید څرګندوني هم یو ډول ثبوت دی چې د جنرال ضیاء زوی د بې‌نظیرې په وژلو کې مرسته کړې ده.

په دې اړه اریک مارګولیس وایي:«په زړه پورې لا دا چې زه بې‌نظیره او د هغې زوی بلاول، لږ څه مخکې چې هغه پاکستان ته خپل دغه بدمرغه سفر وکړي، په لندن کې یو ځای وو، ما له هغې څخه د یو بل پاکستاني مشر چې له نږدې مې پېژاند او خوښاوه مې، یاني، (ولسمشر ضیاألحق) د وژل کېدو په هکله وپوښتل. **خو هغې زما دا پوښتنه په ملنډو او سپکاوي سره ایسته وغورځوله (ضیأ د هغې پلار، ذالفقارعلي بوټو اعدام کړی ؤ) او داسې یې راته وویل: «مورې هیڅ نه پوهیږو چې هغه چا وواژه خو دا څه مهمه ده؟ هغه نور مړ او له منځه تللی دی.»** [6]

د بې‌نظیر بوټو او د هغې د ورونو د وژلو پر مهال چې د ضیاء کورنۍ کوم ترهګریز امکانات په لاس کې لرل، (په ځانګړې توګه د بې‌نظیرې د ترور پر مهال) د بوټو کورنۍ د جنرال ضیاء د زوی اعجازالحق تروریستي امکاناتو ته په کمه سترګه کتل او هغه متل یې نه ؤ اورېدلی چې وایي: **دښمن که پرې (رسۍ) وي، ته یې منکور (مار) بوله.**

مېرمن بې‌نظیر بوټو، مخکې له هغې چې ووژل شي، د خپل ځان پر وړاندې یې د مرګ شته خطرونه لیدل، هغې د خپلو خاطرو په کتاب (چې له خپل مرګ څخه یې لږ وړاندې لیکلی دی) لیکي: **«دا منم چې وبه نیول شم، منم چې د [بنینو] آکینو په څېر (چې د مانیل په هوایي ډګر کې د ۱۹۸۳ز، کال په اګست کې ترور شو)، زه هم ووژل شم، کېدای شي وروسته له هغې چې په هوایي ډګر کې کوزه شم**

---

4: آزادی راډیو: ۱۳۸۶/۷/۳۰ل. ل

5: **انقلابِ محسود**، ساؤتھ وزیرستان: فرنگی راج سے امریکی سامراج تک. ۳۹۷مخ

6:https://www.tolafghan.com/articles/16002


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**ډزې راباندې وشي... دا خطر د پاکستان د ټولو زامنو لپاره په خپل سر اخلم.**[7] **زه له خپل برخه‌لیک او هغه څه چې په راتلونکي کې به راپېښیږي هرکلی کوم.»**[8]

بې‌نظیر بوټو خپل کتاب په دې وینا پای ته رسوي وایي: **ایمان په لوی څښتن، خپل ژوند د خپلو خلکو په لاس کې ورکوم.**[9]

دا هم ویل کېږي چې بې‌نظیر بوټو پاکستان ته له تګ مخکې د امریکا په کولوراډو ایالت کې د یو هوایي سفر پر مهال (چې په افغانستان کې د امریکا پخوانی سفیر **زلمی خلیلزاد** او مېرمن یې هم ورسره ملګرې وو) په الوتکه کې د کولچو له خوړولو ډډه وکړه، بې‌نظیرې د الوتکې خدمې ته ویلي وو، غواړي خپل وزن کم کړي چې له همدې کبله کولچې او نور غوړ خواړه نه خوري خو شیبه وروسته یې د الوتکې خدمې ته وویل:**«رایې وړه، له دې سره هسې هم څه نه کېږي، ځکه چې زه به له دې هم څو میاشتې وروسته مرم.»**[10]

له پورته مالوماتو وروسته، څو پوښتنې راولاړیږي چې ولې بې‌نظیر بوټو له مرګ سره ډغرې وهلې؟ په داسې حال کې چې ټول خطرونه یې لیدل او د کراچۍ په دوه بمي چاودنو کې (چې په لسګونو تنه پلویان یې په کې ووژل شول) په خپلو سترګو لیدلي وې.

ـ هغې چې خپل مرګ په سترګو لیده، ولې د خپلو خواخوږو مشورې یې نه منلې؟

ـ آیا بې‌نظیره نه پوهیدله چې د پاکستان لومړي وزارت ته د رسیدلو په موخه، (داسې لومړی وزارت چې مرګ ورسره تړلی ؤ) په دې ارزیده چې خپل ژوند له لاسه ورکړي؟

ـ هغه نه پوهیده چې کله ووژل شي نو هر څه به له لاسه ورکړي؟ چې بیا به نه دې وي او نه به یې لومړی وزارت.

**لنډ او غوڅ ځواب دا دی چې بې‌نظیر بوټو د خپلې سرکښۍ او خپل غرور ښکار شوه، هغې ته ځان له ټولو وګړو هوښیار او غښتلې ښکاره کیده. نو ځکه بې‌نظیره له خپلو قاتلانو سره د خپلې بې‌احتیاطی له امله، په خپل قتل کې شریکه ده.**

نیټه:۱۴۰۵/۵/۸

**نور بیا**

**د ښاغلی محمد انور اڅر نوری لیکنې په دی لینک کی ولولی.**

[7]: بي نظیر بوټو. دختر شرق. فارسي ژباړه: علیرضا عیاری. ۵۵۵ مخ
[8]: هماغه سرچینه. ۳۱ مخ
[9]: هماغه سرچینه. ۵۵۶ مخ
[10]:https://www.bbc.com/pashto/world-59800905


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څېر و لولئ